د ستراوځواکمن څښتن تعالی په سپیڅلي نامه


# لوګر Logar

میاشتنی خپرونه

د تا سیس کال: ۱۳۸۳ هـ. ل

دلوګر اطلاعاتو او فرهنګ ریاست میاشتنۍ سیاسي، علمي، ټولنیزه، دیني او فرهنګي خپرونه

سه شنبه د۱۳۹۹ کال د زمري میاشتي اته ویشتمه، د ۲۰۲۰ عیسوي کال د اگست اتلسمه ۱ پرله پسي ګڼه (۱۱۴) لومړی کال، څلورمه ګڼه




دافغانستان دخپلواکۍ ګټونکی
ملي اتل شاه امان الله خان غازي

## لوګر کې د هېواد د ملي بیرغ ورځ په شاندارو مراسمو سره ولمانځل شوه





د زمري اومه: هغه مراسم چې پر همدې موخه د ولایت مقام په انګړ کې جوړ شوي ؤ، پکې لوګر والي محمد اجمل شاه پور، د ولایت د ټولنیزو چارو مرستیالې رابعې ستانکزۍ، ولایتي شورا مرستیال حاجي قسیم خوشیوال، دولایتي شورا منشي عدالت عبدالرحیمزي، د دویمې واحدونو مسوولینو، مشرانو، ځوانانو، مېرمنو، د مدني ټولنو غړو او د هېواد پر ملي بیرغ مئینو ګډون کړی ؤ.

په لومړیو کې لوګر والي محمد اجمل شاه پور وینا وکړه ویې ویل؛ د هېواد له ملي بیرغ نه دفاع په اصل کې د هغه یتیم د اوښکو دفاع ده، چې خپل پلرونه یې له هېواد نه د دفاع او عزت ساتنې په لار کې له لاسه ورکړي دي، له ملي بیرغ نه دفاع په حقیقت کې د هغو کونډو د اوښکو دفاع ده، چې د خپلې کورنۍ غړي یې د هېواد نه د ساتنې په لاره کې قرباني کړي دي.

شاه پور وړاندې زیاته کړه؛ نن د هېواد د ځوانانو مسؤلیت دی، چې ددې خاورې عزت او ددغه درې رنګه بیرغ څخه ساتنه وکړي، دا هغه بیرغ دی، چې د افغانانو په شهادت او د دوی د سرښیندو په پایله کې ترلاسه شوی دی.

والي زیاته کړه؛ ددې خاورې خپلواکي په آسانۍ نه ده ترلاسه شوې؛ بلکې د هېواد والو په قربانیو، د دوی د زحمتونو په ګاللو او د وینو په تویدو سره ترلاسه شوې ده. دغه بیرغ چې دلته رپېږي زموږ د خپلواکۍ، عزت او شرف نښه ده، هر هغه څوک چې غواړي دغه بیرغ ته په سپک نظر وګوري په حقیقت کې هغه ددې هېواد دښمن، وطن پلورونکی او د پردیو جاسوس دی. ده وړاندې وویل؛ ترڅو چې یو توره وهونکی افغان په دغه خاوره ژوندی وي هېڅوک به دا خاوره خپله نکړي.

په دغو مراسمو کې د ولایتي شورا مرستیال قسیم خوشیوال، پوهنتون رییس پوهنمل عبدالناصر ستانکزي او د ځوانانو په استازولۍ اجمل سروش هم خبرې وکړې او د هېواد د ملي بیرغ په ارزښتونو وغږېدل.

د زمري د میاشتې ۷ مه د هېواد د ملي بیرغ ورځ نومول شوې او هر کال دغه ورځ د پلازمېنې کابل په ګډون د هېواد په ټولو ولایتونو کې لمانځل کیږي. دغونډې وروسته دهېواد ملي بیرغ اوچت او هوا ته دسولې کوترې هم والوزول شوې. همدا راز ټولو ګډونوالو او ولایتي مسؤلینو په بایسکیل سواره ښار ته راووتل او دهېواد ملي درې رنګه بیرغونه یې ځان سره لیږدول.

## دافغانستان ملي سرود

| | |
|---|---|
| دا وطن افغانستان دی | دا عزت دهر افغان دی |
| کور دې سولې کور دې تورې | هر بچی یې قهرمان دی |
| دا وطن دټولو کور دی | دبلوڅو دازبکو |
| دپښتون او هزاره وو | دترکمنو دتاجکو |
| ورسره عرب، ګوجر دي | پامیریان، نورستانیان |
| براهوي دي، قزلباش دي | هم ایماق، هم پشه یان |
| دا هېواد به تل ځلیږي | لکه لمر پر شنه آسمان |
| په سینه کې دآسیا به | لکه زړه وي جاودیدان |
| نوم دحق مو دی رهبر | وایو الله اکبر وایو الله اکبر |

بیرق ونشان ملی ما
همیشه بر افراشته بادا!



ریانده او تل هسک دې وي زموږ ملي نښان او بیرغ !

یکصدویکمین سالروز استرداد استقلال کشور به همه هموطنان عزیز تبریک و تهنیت باد!



شاه امان الله خان غازي

درنو هېوادوالو!
یوسلو یو کلنه آزادي او
خپلواکي مو نېکمرغه!

سرلیکنه...

## دافغانستان خپلواکي او زموږ ویاړلې ورځ

کله چې انګریزانو زموږ په ګران هیواد افغانستان باندې یرغل راوړل او زموږ خاوره یې تر ولکې لاندې کړې وه، دهیواد اتلو ولسونو د زیاتو سرښندنو او مبارزو وروسته په ۱۲۹۸ هـ. ل کال افغانستان د یرغلګرو انګریزانو څخه خپله آزادي او خپلواکي د غازي شاه امان الله خان په مشرۍ ترلاسه کړه او دغه ستر ویاړ چې موږ ته پاتې دی؛ نه هیریدونکي او زموږ راتلونکي نسلونه به پرې ویاړي.
له نن څخه پوره ۱۰۱ کاله وړاندې زموږ نیکونو په خپلو اتلولیو او سرښندنو خپل هېواد د وخت له یرغلګرو انګلیسانو د هغه استعماري او کبرجني امپراطورۍ څخه آزاد کړل.
دغه ورځ هرکال په هیواد کې په پوره شاندارو جشنونو او محفلونو سره یادونه یې کیږي او افغانان په سر لوړي او افتخار پر انګلیس باندې د خپل تاریخي بري ورځ لمانځي.
انګریزي استعمارګرو غوښتل، چې زموږ په هیواد د سیاسي حاکمیت په ټینګولو، سیاسي او اقتصادي موخوته ځانونه ورسوي، خو په دې آرمان ډیرو خپل ځانونه ګورته ورسول او دې نیواکګر ځواک چې کومې هیلې او آرمانونه له ځان سره درلودل، له خاورو سره خاورې شول.
دآزادۍ دګټلو ستر او سرښندونکي اتل شاه امان الله خان غازي په ۱۹۱۹ زیږدیز کال کې دهیواد د خلاصون ورځ اعلان کړه او افغانستان یې د یو آزاد او خپلواک هیواد په توګه نړیوالو ته په ډاګه ور وپیژندل.
د زمري ۲۸ مه نېټه زموږ د آزادۍ پلوو مبارزینو او مجاهدینو د سرښندنو، میړانې او اتلولیو ورځ ده، چې دغه ورځ موږ ته ویاړ را په برخه کوي، ځکه د نړۍ ستر ځواک هیواد انګلیس ته افغانانو درې ځلې ستره ماته ورکړه او دبریا پایله زموږ دباتورو او ننګیالیو افغانانو په برخه شوه.
دزمري اته ویشتمه ورځ چې د افغا نستان داستقلال د ورځې په نامه یادیږي، په تاریخ کې په زرینو کرښو ثبت شوې او دټولو افغا نانو لپاره دویاړونو او دهسکو شملو ورځ هم یادولی شو.
دآزادۍ دبیرته دترلاسه کولو ورځ میړني ولس هرکال په ځانګړو مراسمو او جشنونو لمانځي. دوی دخپلو، باتورو اوننګیالیو، شهیدانو، غازیانو او اتلانو کارنامې ژوندۍ ساتي او دهغوی ستاینه کوي.
د ملي اوپرتمینوورځو درنښت، دټولوهیوادوالو، ملي وجیبه ده، چې لمانځنه یې په خورا درنښت او ویاړ سره وکړي. د ویاړونو ډکې ورځې موږ ته دویاړنه، نه یوازې پاتې دي؛ بلکې هغو هیوادونو ته هم د عبرت درس ورکوي، کوم چې زموږ خاورې ته به بدنیت اوبده سترګه ګوري او دیرغل راوړلو فکر ورسره وي.
خو افغانان چې دخپل دویاړ نه ډکې ورځې په جشنونو تازه کوي، نو د افغانستان دخاورې پټ دښمن دبدن هډونه یې په لړزه شي او بیا اتلو افغانانوته کاږه هم کتلی نشي.

درنو هیوادوالو او سرلوړو افغانانو !

دخپل ګران افغانستان دآزادۍ دبیرته اخیستلو ورځو ته ویاړ وروښئ؛ د ډاډمنې سولې په راوستو کې، دیوالي اویوموټي کیدو، دجنګ او جګړو څخه لاسنیوی اود هیواد پرمختګ په لاره کې سرښندنې زموږ یواځنۍ غوښتنه ده، چې موږ دبریا او سوکالۍ لورې ته بیایي. که موږ متحد او متفق واوسو، هیڅکله دهیواد دخاورې دښمن پرموږ نشي بریالي کیدای.
راځې چې دغه ملي ورځې په یوالې سره ولمانځو اوخپلو ملي امنیتي ځواکونو ته روحیه ورکړو، چې افغانان تل په میړانه د هیواد له دښمنانو سره جنګیدلي او دمبارزو پایله دافغانانو په برخه شوې.
تل دې وي افغانستان، ژوندی دې وي میړني او سرلوړي افغانان او ژوندي دې وي زموږ داتلو اوسرښندونکو یادونه !

**تریا دخدای پامان**

**مدیر**

درنو هېوادوالو او باتور افغانانو! دانګلیسانو څخه دآزادۍ بیرته اخیستو ۱۰۱مه کلیزه مو مبارک شه !